# د پاپیلوما ویروس په وړاندې ځان وساتئ

## د انسانی پاپیلوما وایروس (HPV) واکسین

### دا واکسین مو د کومو ناروغیو پر وړاندې ساتنه کوي؟




دا واکسین مو د نهه ډوله انساني پاپیلوما ویروسونو (HPV) په وړاندې ساتي چې کولی شي مختلف ډوله سرطانونه رامینځته کړي لکه د رحم ، مقعد ، تناسلي الو ، د مهبل د سر او غاړې سرطانونه او داسې نور. سربیره پردې HPV کولی شي د تناسلي ذخو لامل شي.

### څوک باید دا واکسین ترلاسه کړي؟

دا واکسین د ښوونځیو پروخت د واکسین د معمول پروګرام د یوې برخې په توګه د شپږم ټولګي زده کونکو (11-12 کلنی) ته تطبیق کیږي. که تاسو د HPV-9 واکسین په 6 ټولګي کې نه وي ترلاسه کړی، تاسو کولی شئ تر 26 کلنۍ پورې یې وړیا ترلاسه کړئ.



**څوک باید دا واکسین ترلاسه نکړي؟** تاسو ممکن دا واکسین ترلاسه نه کړئ که تاسو د دې واکسین یا ورته واکسین د یوې برخې سره حساسیت یا وروسته جدي/غیر معمولي جانبي عوارض یا بدي اغیزي ولرئ. یا که تاسو امیندواره یاست.

که تاسو د امیندوارۍ پلان لرئ، تاسو باید مخکې له دې چې تاسو د امیندوارۍ هڅه پیل کړئ د HPV-9 واکسین ټول وړاندیز شوي دوزونه پای ته ورسوئ.



**دې واکسین جانبي عوارض څه دي؟** بدې اغیزی یې خورا عادي او لنډمهاله دي، لکه د ستنی یا پیچکاري ځای کې سوروالی، پرسوب، درد ، سترړیا ، سر درد ، تبه ، د اشتها ضعیفوالی ، د زړه بدوالی یا خوا ګرزیدل، کانګي ، د معدې درد او داسې نور. جانبي عوارضو د اداره کولو لپاره د د پیچکاري یا ستني ځای کې د یخ لوند ټوکر څخه کار اخیستلی شو، او د تبې یا درد سره د مقابلې لپاره د ibuprofen یا acetaminophen په څیر درمل اخیستلی شو.

---

### که تاسو کومي اضافي پوښتني لرئ یا غواړئ خپل واکسین واخلئ؟ تاسو کولی شئ:

- د روغتیایی خدماتو ۸۱۱ شمیرې سره اړیکه ټینګه کړي.
- د نوي راغلو خلکو لپاره د څو ژبو روغتیا مرکز ته په 587-392-8062 شمیرې اړیکه ټینګه کړي.
- د خپل کورنی ډاکټر یا د لومړني صحي خدماتو مرکز سره اړیکه ونیسئ.

AIMGA
Alberta International Medical Graduate Association

19 TO ZERO
UNITED AGAINST COVID-19

*Financial contribution:*
Public Health Agency of Canada | Agence de la santé publique du Canada

ACTION 4 HUMANITY DEVELOPMENT FOUNDATION
CREATING BRIGHTER FUTURE